مجله علمی تحقیقی دعوت
سال ششم، بهار و تابستان ۱۴۰۴هـ ش
شماره مسلسل
۱۲
REG code: RCTD - PNJR- 00+12-22
ACRED code: RCTD- PNJA+00-4-23

# قریشیت او خلافت: د اسلامي نصوصو، اجماع او معاصر واقعیت په رڼا کې

**محمد طاهر شرر**
د علومو اکاډمۍ د فقه او قانون څانګې استاذ
غړی او د دعوت پوهنتون همکار استاذ
Sharar_safay@yahoo.com

دریافت مقاله: ۱۴۰٤/۰٦/۱۵
پذیرش مقاله: ۱۴۰٤/۰٦/۳۱
www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**لنډیز**

د خلافت یا امامت لپاره د قریش نسب شرط په اسلامي فقهي ادب کې دودیزه توګه مهم ګڼل شوی، چې اساس یې د "الأئمة من قریش" حدیث او د څلورو لویو سني امامانو فقهي نظریات دي. خو د صحابه‌وو او تابعینو د کړنو تاریخي شواهد ښیي چې وړتیا لرونکي کسان، حتی که د قریش له نسل څخه نه وو، هم ټاکل کیدای شول، په شرط دې چې د دیني تقوی او د مسلمانانو د چارو د سمبالولو وړتیا ولري. علماء د دې موضوع په اړه درې نظره وړاندې کړې دي: یو شمېر د قریشیت شرط حتمي ګڼلی، ځینو یې یوازې غوره والی او امتیاز ګڼلی او دریمې ډلې بشپړ رد کړی دی. د ابن خلدون او باقلاني تحلیلونه څرګندوي چې د قریشي نسب شرط اساساً د ټولنیز ملاتړ او قبیلوي مشروعیت لپاره و، نه یوازې د نسب لپاره. د معاصرې زمانې لپاره د مشرتابه اصلي معیارونه باید عدالت، وړتیا، د ټولنې د چارو د ادارې ظرفیت، او د شریعت پابندي وي، نه یوازې نسب.

**کلیدي کلمې:** قریش، خلافت، حدیث "الأئمة من قریش"، اجماع.

**Abstract**

The requirement of Quraysh lineage for the caliphate or imamate has traditionally been regarded as significant in Islamic jurisprudence, based on the hadith "Al-A'immah min Quraysh" and the legal opinions of the four major Sunni Imams. However, historical evidence from the actions of the Companions and the Successors indicates that competent individuals, even if not from Quraysh, could be appointed, provided they demonstrated religious piety and the ability to manage the affairs of the Muslim community. Scholars have proposed three perspectives on this issue: some consider the Quraysh requirement obligatory, others view it as a matter of preference, and a third group rejects it entirely. Analyses by Ibn Khaldun and Al-Baqillani suggest that the Quraysh requirement was primarily aimed at securing social support and tribal legitimacy, rather than lineage alone. In the contemporary context, the essential criteria for leadership should be justice, competence, administrative capability, and adherence to Sharia, rather than lineage alone.

**Keywords**: Quraysh, Caliphate, Hadith "Al-A'immah min Quraysh," Consensus (Ijmaʿ).

Dawat
Academic
Journal

Sixth Year, Issue 1
(Fall & Winter 2025)

Volume 12

Received: 2025-09-06
Accepted: 2025-09-22

www.dawat.edu.af
Journal@dawat.edu.af

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، وعلی آله وأصحابه أجمعین.

د اسلامي امت په سیاسي او فقهي تاریخ کې د خلافت موضوع له مهمو او بنسټیزو مسایلو څخه ده او د دې موضوع د شرعي شرایطو په منځ کې د قریشیت شرط د ځانګړي بحث وړ موضوع ګڼل کېږي. د تاریخ له لومړیو پېړیو راهیسې علماوو د دې شرط په اړه اختلاف، اجتهاد او اجماع ترسره کړې او د خلافت د مشروعیت او د امت د سیاسي نظم په جوړښت کې یې د دې شرط رول د جدي څېړنو محور ګرځېدلی دی. د دې شرط اهمیت ځکه زیات دی چې د اسلامي سیاسي نظام د مشروعیت، د امت د یووالي او د اسلامي اصولو د تطبیق له اساسي عناصرو څخه شمېرل کېږي. معاصر سیاسي واقعیتونه، د دولتونو بدلون او د امت د وحدت اړتیا د دې موضوع د بیا ارزونې غوښتنه کوي.

د دې څېړنې موخه د قریشیت شرط د شرعي، فقهي او تاریخي بنسټونو تحلیلي څېړنه ده. په همدې ترڅ کې هغه اسلامي متون او حدیثونه مطالعه کېږي چې د قریشیت شرط ته اشاره کوي او د پخوانیو او معاصرو علماوو نظریات سره پرتله کېږي، څو دا څرګنده شي چې د دې شرط مفهوم په تاریخي او فقهي لحاظ څه ډول رامنځته شوی او په معاصر سیاسي واقعیت کې څه معنی لري. د څېړنې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې آیا د خلافت لپاره د قریشیت شرط یو قطعي او لازمي حکم دی او که د شرایطو، حالاتو او زماني بدلونونو تابع یو مصلحتي او تفسیرېدونکی اصل دی.

همدارنګه څېړنه ځینې مهمې فرعي پوښتنې هم تعقیبوي، چې د موضوع د ژور درک لپاره ضروري دي: د قرآن کریم او نبوي حدیثونو په رڼا کې د امام او خلیفه د اصطلاحاتو د معنا او کارونې ترمنځ څه توپیر موجود دی؟ د اسلامي تاریخ په عملي تجربه کې ایا د قریش له قبیلې پرته اشخاصو د خلافت یا امامت مقام ته رسېدلي، او که رسېدلي، د دغې تجربې شرعي او سیاسي اغېز څه و؟ او په پایله کې، معاصرو علماوو د قریشیت شرط د معاصر دولت، واکمنۍ جوړښت، او امت د وحدت د اړتیاوو په رڼا کې څه ارزونه کړې ده؟

دغه پوښتنې د دې لپاره مطرح کېږي چې د قریشیت شرط د نصوصو، تاریخ او معاصر واقعیت له ګډ تحلیل سره وڅېړل شي او دا څرګنده شي چې د خلافت د مشروعیت لپاره د دې شرط موقعیت او حیثیت په کلاسیکو او معاصرو فقهي لیدلورو کې څه دی.

په دې څېړنه کې فقهي او کلامي متون توصیفي او تحلیلي توګه ارزول کېږي او د پخوانیو او معاصرو علماوو نظریات له یو بل سره پرتله کېږي. سره له دې چې حدیثونه او فقهي منابع د قریشیت شرط یادوي، د اسلامي امت د تاریخ عملي تجربه ښیي چې ورکسان د قریشو له قبیلې پرته هم د مشرتابه ورتیا لري. له همدې امله د دې شرط قطعیت، اړینتوب او د معاصرې سیاسي اړتیاوو سره د هغې سازګاري د بحث وړ مسأله ګرځي.

دا څېړنه د امامت او خلافت د تعریف، د امام، خلیفه او امیرالمؤمنین ترمنځ د توپیر، د خلیفه لپاره د قریشیت د شرط د څرګندولو او د معاصرو علماوو د نظریاتو د بیان موضوعات رانغاړي، او وروسته پایله او مأخذونه وړاندې کوي.

### د موضوع تاریخي شالید

د خلافت په اړه د قریشیت شرط، متقدمینو په خپلو کتابونو کې د خلیفه د شرط سره یو ځای راوړی دی، او هیڅ داسې فقهي اثر نشته چې د قریشیت په اړه په کې څه نه وي، خو ابن خلدون په خپله مقدمه کې او امام باقلاني په (الإنصاف او تمهید الأوائل في تلخیص الدلائل). د جمهورو خلاف تحلیل کړی دی، په معاصر وخت کې د ډاکټر عوده عبدالله څېړنه «د علماؤ د شرح له مخې د (الأئمة من قریش) حدیث تحلیلي او انتقادي مطالعه»، د مجلة الشريعة والقانون - جامعة الإمارات العربية المتحدة، ګڼه (۲۸)، کال ۲۰۰۵م.کې خپره شوې ده، په دې څېړنه کې حدیث تخریج شوی، د پخوانیو او وروستیو علماوو اقوال نقل شوي او د خلکو د فهم د بدلون په اړه بحث شوی دی. خو زما له نظره، په دې څېړنه کې د حدیث له مخې تمرکز لري، له همدې امله ما وغوښتل چې خپله څېړنه په فقهي اړخ متمرکزه کړم.

بله د فیروز عثمان صالح عثمان څېړنه «القرشية شرط من شروط الإمامة (موازنة بين الغزالي وابن خلدون)» ده چې په مجلة دراسات إسلامية - جامعة الخرطوم - كلية الآداب، ګڼه (۴)، کال ۲۰۱۲م کې خپره شوې ده. خو دوی د موضوع یوازې یو اړخ څېړلی دی

په همدې توګه، معاصرو علماوو لکه شنقیطي، محمد ابوزهره، عبدالقادر عوده او ناصر بن عبدالکریم دا موضوع د عصري سیاسي واقعیتونو او د دولتونو د واکمنی د مفاهیمو په رڼا کې تحلیل کړې ده، څو وښیي چې د قریشیت اصل یو تاریخي او مصلحتي اړخ لري، نه دا چې د معاصرو دولتونو د جوړښت لپاره یو مستقیم بنسټ وي.

**د مفاهیمو تعریف (امامت، خلاف)**

**د امامت لغوي تعریف:** ابن منظور وايي: «وَأَمَّ الْقَوْمَ وَأَمَّ بِهِمْ: تَقَدَّمَهُمْ، وَهِيَ الإِمَامَةُ، وَالإِمَامُ: كُلُّ مَنِ ائْتُمَّ بِهِ قَوْمٌ كَانُوا عَلَى الصِّرَاطِ الْمُسْتَقِيمِ أَوْ كَانُوا ضَالِّينَ».(ابن منظور، ١٤١٤ هـ، ج٢٤:١٢). د خلکو امام شو، یا د هغوی مخکښ شو، یعنې د هغوی نه وړاندې ودرېد، او دې عمل ته امامت ویل کېږي او امام هغه هر څوک دی چې یو قوم پسې اقتداء کوي، که هغوی د حق پر سم لاره وي او که په ګمراهۍ کې وي.

**اصطلاحي تعریف:** علماوو په بېلا بېلو لفظونو امامت تعریف کړی دی، که څه هم یې لفظونه مختلف دي خو معناوې یو بل ته نږدې دي.

ماوردي رحمه الله وايي: «الْإِمَامَةُ مَوْضُوعَةٌ لِخِلَافَةِ النُّبُوَّةِ فِي حِرَاسَةِ الدِّينِ وَسِيَاسَةِالدُّنْيَا» (الماوردي، (بې تا) ج١، ص١٥). ژباړه: امامت د دې لپاره ټاکل شوی چې د دین په ساتنه او د دنیا په سیاست کې د نبوت ځایناستی وي.

د حرمینو امام جویني رحمه الله وايي: «الْإِمَامَةُ رِيَاسَةٌ تَامَّةٌ، وَزَعَامَةٌ عَامَّةٌ، تَتَعَلَّقُ بِالْخَاصَّةِ وَالْعَامَّةِ، فِي مُهِمَّاتِ الدِّينِ وَالدُّنْيَا». (الجويني، ١٤٠١هـ،ج١،ص٢٣) ژباړه: امامت هغه بشپړ او عمومي مشرتوب دی چې د دین او دنیا د مهمو چارو په تنظیم او تدبیر کې د خاصو او عامو خلکو سره تړاو لري.

ابن خلدون رحمه الله وايي: «امامت دا دی چې ټول خلک د شرعي لارښوونو له مخې خپلو دیني او دنیاوي ګټو ته برابر وساتل شي؛ ځکه د شریعت په نظر کې د دنیا هر کار د

آخرت د ګټې له مخې ارزښت لري. له همدې امله امامت په حقیقت کې د پیغمبرﷺ خلافت دی، چې د دین ساتنه او د دنیا اداره د دین له مخې پر مخ وړي». (ابن خلدون، بې تا، ج۱، ص۲۵۵)

زما په نظر غوره تعریف د ابن خلدون دی، ځکه چې په دې کې ټول خلک یاد شوي او په دې سره د سیمو امیران او والیان وځي، شرعي لاربښونې د خلافت لپاره قید دی، باید واکمني په اسلامي شریعت مقیده وي، همدارنګه د دنیا کارونه یې د آخرت د ګټې لپاره قید کړي دي، باید په سیاست کې شخصي غوښتنې نه وي.

**د خلافت تعریف**

**لغوي تعریف:** خلافت" په اصل کې د "خَلَفَ" له مصدره اخیستل شوې ده. وایي: خَلَفَهُ في قومه، یعنې هغه د خپل قوم په منځ کې د بل چا ځای ناستی شو.

او د دې معنا مثال د قرآن کریم دا آیت دی: ﴿وَقَالَ مُوسَىٰ لِأَخِيهِ هَٰرُونَ ٱخۡلُفۡنِي فِي قَوۡمِي﴾ [الأَعۡرَاف : ١٤٢] ژباړه: موسیٰ علیه السلام خپل ورور هارون علیه السلام ته وویل، زما څخه وروسته ته زما په قوم کې زما ځای ناستی اوسه). (القلقشندي، ۱۹۸۵، ج۱: ۵)

امام بغوي رحمه الله په شرح السنة کې وایي: ځکه ورته خلیفه ویل کېږي، چې د هغه چا وروسته راغلی وي چې تر ده مخکې تېر شوی او د هغه ځای یې نیولی وي. خو له حضرت آدم او حضرت داوود (علیهما السلام) وروسته، هېڅوک "د الله تعالی د خلیفه په نوم نه یادېږي. ځکه الله تعالی فرمایي: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةً﴾ [البَقَرَةِ : ٣٠] ژباړه"بېشکه زه په ځمکه کې یو خلیفه ټاکم"

او همدارنګه الله تعالی فرمایي: ﴿ يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةً فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾ [ص : ٢٦] ژباړه: اې داوُده! بېشکه موږ ته په ځمکه کې خلیفه ګرځولی یې". (البغوي، ۱۴۰۳هـ، ج۱۴، ص۷۵)

امام طبري رحمه الله د دې مبارک ایات په تفسیر کې لیکي: ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةً﴾ [البَقَرَةِ : ٣٠] ژباړه"بېشکه زه په ځمکه کې یو خلیفه ټاکم" «مِنِّي يَخْلُفُنِي فِي

الْحُكْمِ بَيْنَ خَلْقِي، وَذَلِكَ الْخَلِيفَةُ هُوَ آدَمُ وَمَنْ قَامَ مَقَامَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ وَالْحُكْمِ بِالْعَدْلِ بَيْنَ خَلْقِهِ». (الطبري،١٤٢٢ هـ، ج١: ٤٧٩) ژباړه: زما له لخوا د خلکو تر منځ د حکم او فیصلې کار پر مخ وړي او دا خلیفه آدم علیه السلام دی او هر هغه څوک دي چې د هغه په شان د الله اطاعت کوي او د الله د مخلوق تر منځ په عدالت سره حکم کوي.

خو جمهور علماء دا خبره نه مني، ابن کثیر رحمه الله د همدغې مبارک آیت په تفسیر کې لیکي: «قَوْمًا يَخْلُفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا قَرْنًا بَعْدَ قَرْنٍ وَجِيلًا بَعْدَ جِيلٍ». (ابن کثیر، ١٤٢٠ه،ج١: ٢١٦) ژباړه: یو قوم چې یو نسل یې د بل نسل ځای نیسي، پېړۍ د بلې پېړۍ وروسته، او یو نسل بل نسل نه پسې راځي.

ابن تیمه رحمه الله وایي: «خَلِيفَةً عَمَّنْ قَبْلَكَ مِنَ الْخَلْقِ، لَيْسَ الْمُرَادُ أَنَّهُ خَلِيفَةٌ عَنِ اللَّه». (ابن تیمیه، ١٤٠٦ه، ج١: ٥٠٩) ژباړه: یعني له تا څخه د مخکنیو ځایناستی، دلته ترې هدف دا نه دی چې د الله ځایناستی دی. همدارنګه بل ځای وایي: «والمقصود هنا أن الله لا يخلفه غيره فإن الخلافة إنما تكون عن غائب وهو سبحانه شهيد مدبر لخلقه لا يحتاج في تدبيرهم إلى غيره». (ابن تیمیه، ١٤٠٦ه، ج١: ٣٥٥) ژباړه: او دلته مقصد دا دی چې د الله ځای هېڅوک نه شي نیولی، ځکه خلافت (ځای نیول) هغه وخت وي کله چې څوک غایب وي، خو الله سبحانه وتعالی حاضر دی، د خپلو مخلوقاتو چارو ته ناظر او تنظیموونکی دی، او د هغوی د تدبیر او چارو سمبالولو لپاره هیڅ بل چاته اړتیا نه لري.

**د امام، خلیفه او امیرالمومنین ترمنځ توپیر**

**په قران کریم کې د امام لفظ:** په قران کریم کې د امام لفظ په څو ځایونو کې په مفرده صیغه راغلی دی، الله تعالی د ابراهیم علیه السلام څخه حکایت کوي: ﴿إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا﴾ [البَقَرَةِ: ١٢٤] امام طبري د دې آیت په تفسیر کې راخیستي: «يَا إِبْرَاهِيمُ إِنِّي مُصَيِّرُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا يُؤْتَمُّ بِهِ وَيُقْتَدَى بِهِ». (طبري، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م، ج٢: ٥٠٩) ژباړه ای ابراهیمه! زه تا د خلکو لپاره امام ګرځوم، چې اقتداء یې وشي او پیروي یې وشي.

همدارنګه د جمعې په صيغه هم راغلی دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ يَهۡدُونَ﴾ [الأَنبِيَاء : ٧٣] ژباړه: او ګرځولی و موږ دوی(داسې) امامان چې سمه صافه لاره يې ښووله. امام طبري رحمه الله ددې آيت په تفسير کې وايي: «أَئِمَّةً يُؤْتَمُّ بِهِمْ فِي الْخَيْرِ فِي طَاعَةِ اللَّهِ فِي اتِّبَاعِ أَمْرِهِ وَنَهْيِهِ، وَيُقْتَدَى بِهِمْ، وَيُتَّبَعُونَ عَلَيْهِ». (طبري،١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م، ج٣١٧:١٦) داسې امامان (مشران) چې په نېکۍ کې، د الله په اطاعت کې، او د هغه د امر او منعې په پيروي کې پرې اقتداء کېږي، د دوی پيروي کېږي، او خلک د دوی پر لاره روانېږي.

دا لفظ په قران کريم کې د شر او کفر مشرانو ته هم کارول شوی دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِن نَّكَثُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُم مِّنۢ بَعۡدِ عَهۡدِهِمۡ وَطَعَنُواْ فِي دِينِكُمۡ فَقَٰتِلُوٓاْ أَئِمَّةَ ٱلۡكُفۡرِ إِنَّهُمۡ لَآ أَيۡمَٰنَ لَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَنتَهُونَ﴾ [التَّوْبَة : ١٢] ژباړ: نو وجنګېږئ، تاسې له دغه مشرانو د کفر سره، يعنې د کافرانو مشران. (طبري،١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م، ج١٦: ٣١٧)

خو کله د امام لفظ مطلق ذکر شي، نو بيا ترې د باطل مشران مراد نه وي، ځکه چې په قران کريم کې يې يادونه په دې کلمه مقيده راغلې ده، د امام لفظ په ډېرو حديثونو کې راغلی دی، رسول اللهﷺفرمايلي دی:«فَالْإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ». (صحيح البخاری،ج٩: ٦٢) ژباړه: پس امام (مشر) چې پر خلکو واکمن وي، هغه ساتونکی (چارواکی) دی او د خپلې رعيېت (قوم) په اړه مسؤول دی. امام بخاري همدا مبارک حديث په بل ځای کې د امام پر ځای امير راوړی دی.

په دې توګه امامت يوه اسلامي اصطلاح وګرځېده او له امام نه موخه د مسلمانانو خليفه او واکمن دی، کله ناکله امامت په امامت عظمی هم توصيفيږي، چې د لمانځه له امامت سره يې توپير وشي، کله چې هم امامت مطلق ياد شي، نو بيا ترې امامت عظمی او يا عامه مشري مطلب ده.

د خلافت او امامت په اړه د يادو حديثونو څخه څرګنديږي چې رسول اللهﷺ، اصحابو او تابعينو د خليفه او امام ترمنځ توپير نه دی کړی، د عمربن الخطاب رضی الله عنه له خليفه کېدو سره سم يې د امير المومنين لفظ ورزيات کړ، علماوو کرامو دا ټول په يوه معنی ذکر کړي دي، نووي رحمه الله وايي: «يَجُوزُ أَنْ يُقَالَ لِلْإِمَامِ: الْخَلِيفَةُ وَالْإِمَامُ وَأَمِيرُ الْمُؤْمِنِينَ».

(نووي، ١٤١٢هـ / ١٩٩١م، ج١٠ :٤٩) ژباړه: روا ده چې امام ته خلیفه، امام او امیرالمومنین وویل شي.

په مطلق ډول د امیر کلمه د رسول اللهﷺ په زمانه کې کارېدله، خو په خلیفه یې اطلاق نه کېده، لښکر مشرانو، والیانو او ښاروالانو ته کارېده، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصى اللهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَد أَطَاعِني، وَمَنْ عَصى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي».(البخاری، ١٤٢٢هـ ج۶ :۶۱) ژباړه: چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله جلا جلاله اطاعت وکړ، چا چې زما نافرماني وکړه هغه د الله جلا جلاله نافرماني وکړه، چا چې زما د امیر نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه.

چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله اطاعت وکړی، چا چې زما نافرماني وکړه هغه د الله تعالی نافرماني وکړه، چا چې زما د امیر نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه.

**د قریش پېژندنه**

**د قریش سبب تسمیه:** قرش جمع کولو، کسب او راټولولو ته وايي او قریش په همدې نومول شوي دي. (ابن منظور، بې تا، ج۶: ٣٣۴) ابن اسحاق وايي: «إِنَّمَا سُميت قُرَيْشٌ قُرَيْشًا: لِتَجَمُّعِهَا مِنْ بَعْدِ تَفَرُّقِهَا». (ابن هشام، ١٣٧٥هـ - ١٩٥٥ م، ج١: ٨٧) ژباړه: ځکه قریش په قریشو نومول شوي چې له خواره واره کېدو وروسته راټول شوي دي.

د قریش په اړه د نسبپوهانو او علماوو ترمنځ درې نظره موجود دي، یو نظر دا دی چې قریش نضربن کنانه دی دا د ابن هشام قول دي. (ابن هشام، ١٣٧٥هـ - ١٩٥٥ م، ج٩٣:١) او د دې خبرې تایید د کنانه پلاوي کړی چې رسول اللهﷺ ته راغلل، اشعث بن قیس ورته وویل: ای د الله رسوله موږ د آکل المرار[*]. د خوړونکي اولاد یو او تاسې یې بچي یاست، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته موسکي شو او ویې ویل: «نَحْنُ بَنُو النَّضْرِ بْنِ كِنَانَةَ لاَ نَقْفُو

* . المرار یو ډول صحرایي بوټي دی او آکل المرار یې حَارِثُ بْنُ عَمْرِو بْنِ حُجْرِ بْنِ مُعَاوِيَةَ بْنِ كِنْدِيٍّ، ته وایی. (ابن هشام، سیرة ابن هشام،٢/۵۸۶.

أُمَّنَا وَلاَ نَنْتَفِى مِنْ أَبِينَا». (قزويني، بې تا، ج۱: ۸۷۱) ژباړه: موږ د نضر بن کنانه اولاد یو، نه مور تورنوو او نه له پلار نه ځان نفې کوو.

ځینې وایي، قریش فهربن مالک دی. (زبیري، بې تا، ج۱: ۱۲)

هر هغه څوک چې نضر بن کنانه بن خزیمه بن مدرکه بن الیاس بن مضر له نسله وي هغه قریشي دی، خو که څوک له هغه پورته پلار ته منسوبیږي هغه قریشي نه دی، او نضر د رسول اللهﷺ دولسم نیکه دی.

**په خلیفه کې د قریشتوب شرط**

د علماوو په لید د امیر یا خلیفه په انتخاب کې قریشتوب شرط دی، په دې د صحابو او تابعینو اجماع ده، جمهور علماء او څلور واړه امامان هم په دې نظر دی، یوازې خوارج، ځینې معتزله او ځینې اشاعره دا شرط نه مني. رسول اللهﷺ فرمایلي دي:«الْأَئِمَّة من قُرَيْش»(*). ژباړه: مشران به له قریشو څخه وي.

* . دا حدیث طبراني په خپل المعجم الصغیر (ص ۸۵) کې راوړی دی. له هغه نه بیا ابونعیم (۲۴۲/۷)، او ابو القاسم المهراني په الفوائد المنتخبة (۴/۴۰/۱-۲)، او ابو عمرو الداني په الفتن (ورق ۲/۴)، او حاکم (۴/۷۵-۷۶)، او خطابي په غریب الحدیث (ورق ۱/۷۱) کې د فیض له لارې روایت کړی دی. طبراني ویلي: "دا حدیث له مسعر نه یوازې فیض روایت کړی دی."

الباني وایي: د هغه حال مجهول دی، ځکه ابن أبي حاتم (۸۸/۳/۲) هغه ذکر کړی، خو نه یې په اړه جرح کړې او نه یې تعدیل کړی، یوازې یې ویلي: "زما پلار ترې لیکلي دي او ترې روایت یې کړی دی." نو هغه د دې حدیث له راویانو څخه دی، خلاف د هغه څه چې د هیثمي (۱۹۲/۵) له خبرو ښکاري، ځکه هغه حدیث د حفص بن عمر بن صباح راقي له سببه کمزوری بللی دی، حال دا چې ابوحاتم او نور بیا داني او حاکم ته متابعت کوي. د اسناد نور راویان ثقات دي، نو په شواهدو کې دا حدیث حسن دی. حاکم یې په اړه څه نه دي ویلي او همداسې ذهبي هم (د خپلو کتابونو په چاپي نسخو کې). خو مناوي په فیض القدیر کې ویلي: "حاکم دا حدیث په المناقب کې راخیستی او ویلي یې دي: صحیح دی." ذهبي پرې اعتراض کړی او ویلي یې دي: "دا حدیث منکر دی."

ابن حجر رحمه الله ویلي: "حدیث حسن دی، خو په دې کې اختلاف دی چې آیا مرفوع دی که موقوف." دارقطني د موقوف والي لور ته رجحان ورکړی دی. هغه ویلي: "ما د (الأئمة من قریش) حدیث ټولې لارې په یوه لویه برخه کړې راټولې دي، د شاوخوا څلوېښتو صحابه‌وو له طریقه."

په دې برخه کې علماء په دوه ډلو ویشل شوي دي، یوه ډله وايي چې دا شرط لازمي دی، دوهم ډله وايي چې لازم نه دی خو قریشیتوب اولاویت لري او دا کعبیه ډله ده، دریمه ډله علماء وايي چې قریشیتوب شرط نه دی.

**لومړی قول**: څلور وارو امامانو په خلافت کې د قریشتوب شرط لازمي ګرځولی دی،

**حنفي مذهب:** ابن عابدين رحمه الله وايي: «وَقَوْلُهُ قُرَشِيًّا لِقَوْلِهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ» وَقَدْ سَلَّمَتْ الْأَنْصَارُ الْخِلَافَةَ لِقُرَيْشٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَبِهِ يَبْطُلُ قَوْلُ الضِّرَارِيَّةِ(*) إنَّ الْإِمَامَةَ تَصْلُحُ فِي غَيْرِ قُرَيْشٍ وَالْكَعْبِيَّةِ(*). إنَّ الْقُرَشِيَّ أَوْلَى بِهَا». (ابن عابدين، ۱٤۱۲هـ - ۱۹۹۲م، ج۱: ٥٤۸) ژباړه: او دا خبره يې چې قریشي به وي، د رسول اللهﷺد دې قول په استناد چې ویلي يې دی: (مشران به له قریشو وي) انصارو قریشو ته د همدې حدیث په استناد خلافت وسپاره، او په دې سره د الضراریه هغه قول باطلیږي چې وايي امیریت له قریشو پرته نورو ته هم درست دی او د کعبیه خبره هم باطلیږي چې وايي قریش له نورو اولولیت لري.

---

الباني وايي علامه قاري په خپل شرح النخبة کې لیکلي چې حافظ (ابن حجر) په دې حدیث کې ویلي چې دا متواتر دی او څوک چې د حافظ راټول شوي طرق وګوري، شک نه کوي، لکه د هغو څو طریقو چې موږ یې دلته وړاندې کوو.( الباني، إرواء الغليل في تخريج أحاديث منار السبيل، ج۲، ص۲۹۸)

* .دا د ضرار بن عَمْرو الْكُوفِي اتباع دي، په لومړی سر کې د واصل بن عَطاء شاګرد و، بیا د عملونو په خلقت او د قبر له عذابه د منکرېدو کې مخالف شو، بیا یې دعوه وکړه چې امامت(مشري) له قریشو نه د غیر قریشو ډېر حق دی، همدارنګه یې ویلي دي چې امامت د ټولو عربانو عجمانو لپاره روا دی. (عبد القاهر بن طاهر بن محمد بن عبد الله البغدادي التميمي الأسفراييني، أبو منصور (المتوفى: ٤۲۹هـ)، الفرق بين الفرق وبيان الفرقة الناجية، دار الآفاق الجديدة - بيروت، ج۱، ص۳٤۰. أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين، اعتقادات فرق المسلمين والمشركين، المحقق: علي سامي النشار، دار الكتب العلمية - بيروت، ج۱، ص٦۹.

* . دا فرقه أبو القاسم عبد الله بن أحمد بن محمود الكعبي البلخي ته منسوب ده، د کعبي فرقې مشر و چې معتزله و، کعبیه د معتزلوو یوه فرقه ده. أبو العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن إبراهيم بن أبي بكر ابن خلكان البرمكي الإربلي (المتوفى: ٦٨١هـ)المحقق: إحسان عباس، دار صادر - بيروت، ج۳، ص۱٥ عبد القاهر، الفرق بين الفرق وبيان الفرقة الناجية،، ج۱، ص۹۳.

البحر الرائق کې راغلي دي: «لا بد أن يكون الإمام مكلفا حرا مسلما عدلا مجتهدا ذا رأي وكفاية سميعا بصيرا ناطقا، وأن يكون من قريش». (ابن نجيم، ١٤٢٢هـ-٢٠٠٢م، ج٣٠٤: ١٥) ژباړه: امام بايد مکلف(بالغ او عاقل)، آزاد، مسلمان، عادل، مجتهد، د نظر، تدبير او وړتيا خاوند وي، اورېدل، ليدل او خبرې کونکی و او بايد له قريشو څخه وي.

**مالکي مذهب:** امام مالك رحمه الله وايي: «وَلَا يَكُونُ إلَّا قُرَشِيًّا، وَغَيْرُهُ لَا حُكْمَ لَهُ، .. لِأَنَّ الْإِمَامَةَ لَا تَكُونُ إلَّا لِقُرَشِيٍّ». (اشبيلي، بې تا، ج٤: ١٥٣) ژباړه: امام به يوازې قريشي وي، نورو ته اعتبار نشته.. ځکه چې امامت به يوازې په قريشو کې وي.

امام باقلاني(*) رحمه الله وايي: «وَيدل على مَا قُلْنَاهُ إطباق الْأمة فِي الصَّدْر الأول من الْمُهَاجِرين وَالْأَنْصَار بعد الِاخْتِلَاف الَّذِي شجر بَينهم على أَن الْإِمَامَة لَا تصح إِلَّا فِي قُرَيْش». (باقلاني،١٤٠٧هـ- ١٩٨٧م، ج١: ٤٧٢) ژباړه: دا چې موږ وويل، د هغه ثبوت دا دی چې ټول امت د اسلام د لومړيو وختونو (د مهاجرينو او انصار په منځ کې) د خپل منځ اختلاف له پای ته رسېدو وروسته په دې يوه خوله شول چې امامت (خلافت) يوازې د قريشو په قبيله کې صحيح دی او پرته له هغوی نه سمېږي.

**شافعي مذهب:** مناوي(*) رحمه الله وايي: «وعليه انعقد الإجماع في زمن الصحابة ومن بعدهم وهو حكم مستمر إلى آخر الدنيا ومن خالف فيه من أهل البدع فهو محجوج بإجماع

---

* . قاضي ابو بکر الباقلاني د اهل السنة والجماعة او اهل الحديث له سترو عالمانو څخه و. هغه د اشعري طريقې پيرو و، او د مالکي فقهې مشري په عراق کې تر ده رسېدلې وه. ده له مشهورو عالمانو لکه ابن مجاهد، ابو بکر الأبهري، ابن أبي زيد او يو شمېر نورو څخه علم حاصل کړی او له ده وروسته ډېر نامتو امامان شاګردان شول، لکه ابو ذر الهروي، ابو عمران الفاسي او قاضي ابو محمد بن نصر.

قاضي ابو بکر الباقلاني ډېر مشهوره تأليفات لري، په ځانګړي ډول په علم الکلام او نورو اسلامي علومو کې. د ده له مهمو کتابونو څخه دي: الإبانة، شرح اللمع، الإمامة الکبيرة، الإمامة الصغيرة، أمالي إجماع أهل المدينة، المقدمات في أصول الديانات، التعريف والإرشاد في أصول الفقه، او الانتصار للقرآن، چې اصلي بحثونه يې د قرآن د اعجاز د ثبوت په اړه دي. (مخلوف، ٢٠٠٣ م، ج١، ص١٣٨)

* . محمد بن اسحاق بن ابراهيم السلمي، قاضي تاج‌الدين المناوي، د مصر په قضا کې د قاضي‌القضات عزالدين بن جماعه مرستيال و. هغه د قضا او محاکمو په چارو کې پوه او فعال فقيه و، حديث يې له ستّ الوزراء بنت المنجا، احمد بن ابی طالب الحجار او نورو زده کړی و او په مشهد حسيني په قاهره کې يې تدريس کاوه. هغه د نظامي

الصحابة». (مناوي، ١٣٥٦هـ، ج۶، ص۴۵۰) ژباړه: په دې باندې د صحابوو او له هغې وورسته اجماع ده او دا حکم به تر قیامته وي، کومو اهل بدعت خلکو چې يې مخالفت کړی هغوی باندې د صحابو اجماع حجت دی.

سبکي(*) رحمه الله وايي: «لَا تَكُونُ إِلَّا فِي قُرَيْشٍ وَلَا تَخْتَصُّ بِطَائِفَةٍ مِنْهُمْ لِقَوْلِهِﷺ«الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ» وَلَا تَجُوزُ فِي حَلِيفٍ لَهُمْ وَلَا مَوْلًى وَلَا فِيمَنْ أَبُوهُ غَيْرُ قُرَشِيٍّ وَأُمُّهُ قُرَشِيَّةٌ». (سبکي، بې تا، ج۲: ٥٦٦) ژباړه: خلافت به یوازې په قریشو کې وي، د رسول اللهﷺد دې حدیث په استناد چې (امامان به قریشو څخه وي) بلې یوې ډلې ته روا نه دی، د دوی ملاترو او مریانو ته هم نه دی روا، او هغه چاته هم نه دی روا چې پلار يې قریشي نه وي، خو مور يې قریشۍ وي.

**حنبلي مذهب:** طبقات الحنابله راخیستي: «الخِلافةُ في قُرَيشٍ ما بَقِيَ مِنَ النَّاسِ اثنانِ، لَيسَ لأحَدٍ من النَّاسِ أن يُنازِعَهم فيها، ولا يَخرُجَ عليهم، ولا نُقِرُّ لغَيرِهم بها إلى قيامِ السَّاعةِ». (ابن ابی یعلی، بې تا، ج۱: ٢٦) ژباړه: که دوه کسان هم پاتې وي، نو خلافت به په قریشو کې وي ، هېڅوک حق نه لري چې له هغوی سره په خلافت کې شخړه وکړي، او نه دې پرې څوک بغاوت کوي، او تر قیامته دا خلافت د بل چا لپاره نه منو.

ابن خلدون رحمه الله وايي: «خو د قریشي نسبت (یعنې په قریشو پورې د خلافت تړل) د صحابه‌وو د اجماع له امله دی چې د سقیفې په ورځ پرې سره ټول راټول شول. هغه وخت چې انصار د سعد بن عباده د بیعت نیت وکړ او ويې ویل: «یو مشر به له موږ وي او یو له

محکمې مشر شو او اوږده موده يې د مسلمانانو ترمنځ د قضا چارې ترسره کړې. هغه وفات شو د ربیع الآخر د میاشتې په شپږمه، د ٧٦٥ هجري کال په قاهره کې. (السبکي، ١٤١٣هـ، ج۹: ١٢٧)

* . تقي الدين السبكي، چې بشپړ نوم يې علي بن عبد الكافي بن علي بن تمام السبكي الأنصاري الخزرجي، ابو الحسن، تقي الدين و، د خپل وخت شیخ الاسلام او د حافظانو، مفسرانو او مناظره کوونکو له وتلو عالمانو څخه و. هغه د تاج السبكي پلار و، چې د "الطبقات" نومي کتاب يې لیکلی دی. تقي الدين د سبک په نوم سیمه کې چې د منوفیه د مصر له سیمو څخه ده، زېږېدلی و. وروسته قاهرې ته ولاړ، بیا شام ته کډه شو او په ٧٣٩ هجري کال کې د شام قاضي وټاکل شو. د ناروغۍ له امله بېرته قاهرې ته ستون شو او هلته وفات شو.د ده له مهمو تألیفاتو څخه دي: الدر النظيم (په تفسیر کې، نیمګړی پاتې شوی)، مختصر طبقات الفقهاء، إحياء النفوس في صنعة إلقاء الدروس، الإغريض في الحقيقة والمجاز والكنية والتعريض او التمهيد فيما يجب فيه.(الزرکلي، ٢٠٠٢ م، ج٤، ص٣٠٢)

تاسو»، نو قریشو د رسول اللهﷺ پر دې قول استدلال وکړ: «الأئمة من قريش» (امامان له قریشو دي). همدارنګه یې وویل: نبيﷺ موږ ته وصیت کړی دی چې ستاسې له نېکانو سره نېکي وکړو او له بدو مو تېر شول او که چېرې امارت په تاسو کې وای، نو دا وصیت به نه و شوی. په دې دلیل قریشو انصار مات کړل، نو هغوی له خپل نظر (چې ویل یې: «له موږ یو مشر او له تاسو یو مشر») راوګرځېدل او د سعد د بیعت له قصد څخه تېر شول. همدارنګه په صحیح حدیث کې راغلي دي: «لا يزال هذا الأمر في هذا الحي من قريش» [15] (دا کار [یعنې خلافت] به تل د قریشو په دې قبیله کې وي». او دا ډول بې شمېره دلایل نور هم شته. ( ابن خلدون، ۱٤۰۸ هـ - ۱۹۸۸ م، ج۲: ۲٤۳)

**ابن حزم رحمه الله وايي:** «فَصَحَّ أَنَّ مَنْ تَسَمَّى بِالْأَمْرِ وَالْخِلَافَةِ مِنْ غَيْرِ قُرَيْشٍ فَلَيْسَ خَلِيفَةً، وَلَا إمَامًا وَلَا مِنْ أُولِي الْأَمْرِ، وَلَا أَمْرَ لَهُ -: فَهُوَ فَاسِقٌ عَاصٍ لِلَّهِ تَعَالَى، هُوَ وَكُلُّ مَنْ سَاعَدَهُ أَوْ رَضِيَ أَمْرَهُ، لِتَعَدِّيهِمْ حُدُودَ اللَّهِ تَعَالَى عَلَى لِسَانِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». (ابن حزم، بې تا، ج۸: ۴۲۱) ژباړه: په څرګنده توګه ثابته ده چې هر څوک له قریشو پرته د امارت او خلافت نوم پر ځان کېږدي، نو هغه نه خلیفه دی، نه امام دی او نه د اولي الامر له ډلې شمېرل کېږي، او هېڅ ډول امر او واک نه لري. بلکې هغه فاسق او د الله تعالی نافرمان دی، همغه او هر هغه څوک چې له ده سره مرسته وکړي یا د هغه په کار خوښ شي؛ ځکه هغوی د الله تعالی د رسولﷺ په ژبه د الله د حدونو سرغړونه کړې ده.

امام غزالي رحمه الله وايي چې په دې باندې د امت عملي تواتر دی: «نسب قُرَيْش لَا بُد مِنْهُ لقَوْلهﷺالْأَئِمَّة من قُرَيْش وَاعْتِبَار هَذَا مَأْخُوذ من التَّوْقِيف وَمن اجماع أهل الاعصار الخالية على أَن الْإِمَامَة لَيست إِلَّا فِي هَذَا النّسَب وَلذَلِك لم يتصد لطلب الامامة غير قرشي فِي عصر من الاعصار مَعَ شغف النَّاس بِالِاسْتِيلَاءِ والاستعلاء وبذلهم». (غزالي، بې تا، ج۱: ۱۸۰) ژباړه: د رسول اللهﷺ د دې قول له مخې: «الائمه من قریش» (امامان له قریشو دي). د قریش نسب ضروري دی، د دې حکم د توقیف (یعنې د شریعت له نص) څخه اخیستل

---

[15]. دا حدیث امام احمد بن حنبل په خپل مسند کې په لږ توپیر راخیستی: «وَلَمْ تَعْرِفِ الْعَرَبُ هَذَا الْأَمْرَ إِلَّا لِهَذَا الْحَيِّ مِنْ قُرَيْشٍ»( أحمد بن حنبل، ۱٤۲۰هـ، ج۱: ٤٥۳)

شوی او هم د تېرو زمانو د خلکو د اجماع څخه، چې امامت یوازې په همدې نسب کې دی. او له همدې امله په هېڅ وخت کې غیر قرشي کس د امامت غوښتنه نه ده کړې، سره له دې چې خلک د واک او لوړتیا لپاره لیواله وو او ډېرې هڅې یې کولې.

**دوهم قول: په خلافت کې قریشیت شرط نه دی**

امام الحرمین الجویني رحمه الله په غیاث الامم کې راخیستي: «وَذَكَرَ بَعْضُ الْأَئِمَّةِ أَنَّ هَذَا الْحَدِيثَ فِي حُكْمِ الْمُسْتَفِيضِ الْمَقْطُوعِ بِثُبُوتِهِ ; مِنْ حَيْثُ إِنَّ الْأُمَّةَ تَلَقَّتْهُ بِالْقَبُولِ.وَهَذَا مَسْلَكٌ لَا أُوثِرُهُ، فَإِنَّ نَقَلَةَ هَذَا الْحَدِيثِ مَعْدُودُونَ، لَا يَبْلُغُونَ مَبْلَغَ عَدَدِ التَّوَاتُرِ». (جویني،١٤٠١هـ، ج١: ٨٠) ژباړه: ځینو علماوو ویلي دي چې دا حدیث د مشهور حکم لري چې په ثبوت کې یې شک نه کېږي، ځکه ټول امت دا په ښه توګه منلی دی. خو زه دا طریقه نه خوښوم، ځکه چې د دې حدیث روایت کوونکي ډېر لږ دي او د هغو شمېر د متواتر حدیث د راویانو شمېر ته نه رسېږي.

قرطبي رحمه الله هم په دې برخه کې متردد دي، د خلیفه په شرطونو کې وايي: «أن یکون من صمیم قریش، لقولهﷺ: "الأئمة من قریش" وقد اختلف في هذا». (قرطبي، ١٣٨٤هـ - ١٩٦٤ م، ج١ :٢٧٠) ژباړه: د رسول اللهﷺد دې قول په استناد به خلیفه له قریشو څخه وي چې ویلي یې دي(امامان به له قریشو څخه وي)، خو په دې کې اختلاف دی.

سره له دې چې احناف وایي یوازې ضراریه او کعبیه مخالف دي.

ابن خلدون رحمه الله په خپله مقدمه کې نقل کړي چې باقلاني د قریشیت شرط نه یادوي، هغه وایي: «و من القائلین بنفي اشتراط القرشیة القاضي أبو بکر الباقلاني لما أدرك علیه عصبیة قریش من التلاشي و الاضمحلال و استبداد ملوك العجم من الخلفاء فأسقط شرط القرشیة و إن کان موافقاً لرأي الخوارج». (ابن خلدون، بې تا، ج١: ٩٩) ژباړه: د هغو کسانو له ډلې چې د قریش شرط یې رد کړی، قاضي ابو بکر باقلاني هم و. ځکه چې هغه ولیدل د قریشو قومي ملاتړ او زور له منځه تللی او ورک شوی دی، او عجم (غیرعربي) پاچاهان پر خلافت واکمن شوي دي، نو ده د قریشيتوب شرط باطل وګاڼه، که څه هم دا خبره د خوارجو له نظر سره سمه وه.

خو په الانصاف کې باقلاني رحمه الله د قریشیتوب شرط اینبی دی: «أن الإمامة لا تصلح إلا لمن تجتمع فيه شرائط.منها: أن يكون قرشياً؛ لقوله عليه السلام: الأئمة من قريش». (باقلاني، بې تا، ۲۰۰۰م، ج۱: ۶۶). ژباړه: امامت یوازې د هغوی لپاره مناسب دی چې دغه شرطونه ولري، باید قریشي وي، ځکه چې رسول اللهﷺفرمايلي دی: (امامان به له قریشو څخه وي).

دا احتمال لري چې دا د ابن خلدون خپل تعلیل وي.

خو ابن خلدون بل ځای وايي: «کله چې دا خبره ثابته شوه چې د قریشي شرط د خلکو د اختلاف او شخړې د دفع کولو لپاره و، ځکه هغوی (قریش) په خپله وخت کې قوي عصبیه او غلبه لرله، او موږ پوهېږو چې شارع (شریعت) د کوم حکم د یوې ځانګړې زمانې، یوې ځانګړې ډلې یا یوې ځانګړې قبیلې لپاره نه ځانګړی کوي، نو پوهېږو چې دغه شرط اصل کې د «کفایت» لپاره و. له همدې امله موږ دا شرط بیرته هغه اصل (یعنې کفایت او وړتیا) ته راګرځوو او د قریشي نسب پر ځای د هغې موخې ته ګورو چې په قریشو کې موجوده وه، او هغه د عصبیې ځواک و.

نو موږ شرط ږدو چې د مسلمانانو په چارو کې واکمن باید د داسې قوم له منځه وي چې په خپل وخت کې یې قوي ملاتړ او غالبه ځواک ولري، څو نور قومونه یې تعقیب کړي او د هغوی خبره ومني، او د ټول امت کلمه په هغوی راټوله شي د ښه ساتنې لپاره. دا حالت (چې د ټول امت په یوه قوم پسې راټولېدل) په نننۍ نړۍ کې داسې نه پېښېږي لکه د قریشو په وخت کې، ځکه د اسلام لومړۍ مبارزه نړیواله وه او د عربو عصبیه یې د تحقق لپاره بسنه کوله، نو قریشو د نورو امتونو پر وړاندې غلبه وکړه. خو اوس د هر ولایت او هر اقلیم لپاره دا شرط یوازې په هغه قوم پوره کېږي چې په هماغه سیمه کې غالب عصبیه(ملاتړ) لري. او که په خلافت کې د الله تعالی راز ولټوو ، هغه بیا داسې نه ده، ځکه الله تعالی خلیفه د دې لپاره ټاکلی چې د ده په ځای د بندګانو چارو ته وګوري، د هغوی مصلحتونه پر ځای کړي او له زیانونو یې منع کړي. دا لوی مسؤلیت یوازې هغه چا ته سپارل کېږي چې د دې د ترسره کولو قدرت ولري». (ابن خلدون، بې تا، ج۱: ۱۰۰)

د دوارو قولونو ترمنځ توافق: د صحابه‌وو اجماع د قریشي نسب پر اساس د امامت تایید کړی «الأئمة من قریش»، خو ابن خلدون وایي چې د دې شرط اصلي علت د قریشو قوي ملاتړ او ټولنیز ځواک و، نه یوازې نسب، نو د امامت لپاره اصل شرط عدالت، کفایت او د خلکو د چارو د سمبالولو وړتیا ده، نه د نسب دوام.

**د مخالفینو استدلال:**

د سقیفې په ورځ د انصارو په قول یې استدلال کړی دی: «منا امیر ومنکم امیر» دوی وایي که انصار په دې پوهېدلی چې له قریشو پرته د نورو لپاره امیریت نه دی روا نه دا خبره به یې نه کوله.

همدارنګه د رسول اللهﷺ په دې حدیث مبارک یې استدلال کړی دی «اسمَعوا وأطیعوا وإنِ استُعمِلَ علیکم عَبدٌ حَبشيٌّ کأنَّ رَأسَهُ زَبیبةٌ». (البخاري، ١٤٢٢هـ، ج١ :١٤٠) ژباړه: که پر تاسې یو حبشي غلام چې سر یې د ممیز هومره وي هم امیر شو، تاسې یې خبره واورئ او اطاعت یې وکړئ. نو حدیث د هر آمر اطاعت واجب ګرځولی که هغه مریه هم وي، نو د قریشیت د شرط په عدم دلالت کوي.

خو خطابي(*) رحمه الله د دې حدیث په تشریح کې وایي: «قَولُه: وإنْ عَبدًا حَبشیًّا، یُریدُ به طاعةَ من ولاهُ الإمامُ علیکم وإن کان عَبدًا حَبشیًّا، وقد ثَبَتَ عنه صلَّى اللهُ علیه وسلَّم أنَّه قال: الأئِمةُ من قُرَیشٍ». (خطابي، ١٣٥١ هـ - ١٩٣٢ م، ج٤: ٣٠٠) او د رسول اللهﷺ د دې قول نه(یو حشبي مریه هم وی) موخه او هدف دا دی، که یو امام پر تاسې حشبي مریه هم وټاکه او له رسول اللهﷺ نه ثابته ده چې ویلې یې دی، امیران به له قریشو څخه وي.

* . امام علامه، حافظ لغوي ابو سلیمان حمد بن محمد بن ابراهیم بن خطاب البستي الخطابي د علم او تألیف له مشهورو عالمانو څخه و. هغه (نږدې ٣١٠ هجري) کال په شاوخوا کې زېږېدلی و. ده په حدیثپوهنه کې یې له ګڼو لویو عالمانو څخه استفاده کړې ده،په مکه کې یې له ابو سعید بن الاعرابي، په بغداد کې یې له اسماعیل بن محمد الصفار،په بصره کې یې له ابو بکر بن داسه او نورو څخه او په نیشاپور کې یې له ابو العباس الاصم او یو شمېر نورو زده کړه کړې وه. د متونو او اسنادو د راټولولو او څېړلو ته ډېر اهتمام درلود. د فقهې په برخه کې یې د شافعي مذهب له مشهورو فقیهانو څخه لکه ابو بکر القفال الشاشي، ابو علي بن ابي هریره او د دوی له همرتبو عالمانو نه زده کړې کړي دي( الذهبی، ٢٠٠٦م، ج١٢، ص٤٩٦)

د دې خبرې ځواب له څو اړخو کيږي:

لومړی دا چې داسې شي سره تشبيه هم ورکول کيږي چې د دغه شي وجود ناسم وي، مثلا رسول اللهﷺفرمايلي دی: «من بنى للهِ مَسْجِدًا ولَو مِثلَ مَفْحَصِ قَطاةٍ بنى اللهُ له بيتًا في الجنَّةِ». (خطابي،۱۳٥۱ هـ - ۱۹۳۲ م، ج٤، ص۳۰۰) ژباړه: که چا د الله لپاره د قطاة(*). د ځالې په اندازه مسجد ودان کړ، الله تعالى به ورته په جنت کې کور ودان کړي.

دوهم دا چې دلته حشبي غلام د تېر په اعتبار ياد شوی دی، شنقيطي رحمه الله وايي بيلګه يې داسې ده لکه په قران کريم کې چې الله تعالى وايي: ﴿ وَءَاتُواْ ٱلۡيَتَٰمَىٰٓ أَمۡوَٰلَهُمۡۖ﴾ [النِّسَاء : ۲] ژباړه: تاسې يتميانو ته د هغوی مالونه ورکړئ. دلته بالغ ته د يتيم لفظ د تېر په اعتبار کاريدلی دی. (شنقيطي، ۱٤۱٥هـ - ۱۹۹٥م، ج۱: ۲۷)

دريم دا چې له دې نه مراده غلبه ده، نو په دې صورت کې يې اطاعت واجب دی او د حديث دا لفظ يې تائيد کوي (إن تَأمَّرَ عليكم) د تَأمَّر لفظ دلالت دا دی چې په زور واکمن شوی دی، نه د أهل الحل والعقد له خوا(پورتنی اثر).

ابن حجر رحمه الله وايي: «لَو تَغلَّبَ عَبدٌ حَقيقةً بطَريقِ الشَّوكةِ فإنَّ طاعَتَهُ تَجِبُ إخمادًا للفِتنةِ ما لم يَأمُرْ بمَعصيةٍ». (ابن حجر، ۱۳۷۹، ج۱۳: ۱۲۲) ژباړه: که په حقيقي توګه يومريه د زور له لارې واکمن شو، نو د فتنې د خاموشه کولو په خاطر يې تر هغې اطاعت واجب دی چې په معصيت يې امر نه وي کړی.

همدارنګه يې د عمر رضي الله عنه په قول استدلال کړی دی، عمر رضي الله عنه فرمايلي دی: «إِنْ أَدْرَكَنِي أَجَلِي وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ حَيٌّ اسْتَخْلَفْتُهُ فَإِنْ سَأَلَنِي اللَّهُ لِمَ اسْتَخْلَفْتَهُ عَلَى أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قُلْتُ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَكَﷺ يَقُولُ: «إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ أَمِينًا، وَأَمِينِي أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ» فَأَنْكَرَ الْقَوْمُ ذَلِكَ، وَقَالُوا: مَا بَالُ عُلْيَا قُرَيْشٍ؟ يَعْنُونَ بَنِي فِهْرٍ، ثُمَّ قَالَ: فَإِنْ أَدْرَكَنِي أَجَلِي، وَقَدْ تُوُفِّيَ أَبُو عُبَيْدَةَ، اسْتَخْلَفْتُ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، فَإِنْ سَأَلَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ: لِمَ اسْتَخْلَفْتَهُ؟ قُلْتُ: سَمِعْتُ رَسُولَكَﷺ يَقُولُ: «إِنَّهُ يُحْشَرُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْنَ يَدَي

---

* . قطاة: خرګتې او په درې يې کې بغرقره بولې، د ځالې لپاره زمکه په پنجو راکنې.

الْعُلَمَاءِ نَبْذَةً». (احمد بن حنبل، ۱٤۲۱ هـ - ۲۰۰۱م، ج۱: ۲٦۳) ژباړه: «که زما اجل راورسېږي او ابوعبیده بن الجراح ژوندی وي، نو زه به هغه د خپل ځای ناستي (خلیفه) وټاکم. که خدای تعالی راته ووایي: ولې دې هغه د محمدﷺ پر امت خلیفه وټاکه؟ زه به ووایم: ځکه ما ستا د رسولﷺ له خولې اورېدلي چې فرمایلي یې دي: «هر نبي یو امین لري، او زما امین ابوعبیده بن الجراح دی.» خو خلک پر دې خبره ناخوښه شول او ویې ویل: نو د قریش د اشرافو څه؟ (یعنې د بنی فهر کورنی).

بیا یې وویل: که زما اجل راورسېږي او ابوعبیده وفات شوی وي، نو زه به معاذ بن جبل خلیفه کړم. که زما رب عزوجل راته ووښتي: ولې دې هغه خلیفه کړ؟ زه به ووایم: ځکه ما ستا د رسولﷺ له خولې اورېدلي چې فرمایلي یې دي: «هغه به د قیامت په ورځ د علماوو مخې ته یو پرتمین مخکښ وي».

دوی وایي چې معاذ بن جبل انصاري و، قریشو ته نه و منسوب، نو په دې دلالت کوي چې قریشیت شرعا الزامي نه دی او که واجب وای نو عمر رضي الله عنه څخه یې مخالفت نه کاوه، په دې حدیث کې یو بل دلالت هم شته چې د نسب په اړه دی او دا په دې معنی دی چې د نسب په معیار کې د صحابو ترمنځ هم فقهي اختلاف و او دا باوري کوي چې د نسب شرط ظني دی، د نظر او څېړکتیا وړ دی.

خو ابن حجر رحمه الله د دې حدیث په شرحه کې وایي : «فَيَحْتَمِلُ أَنْ يُقَالَ لَعَلَّ الْإِجْمَاعَ انْعَقَدَ بَعْدَ عُمَرَ عَلَى اشْتِرَاطِ أَنْ يَكُونَ الْخَلِيفَةُ قُرَشِيًّا أَوْ تَغَيَّرَ اجْتِهَادُ عُمَرَ فِي ذَلِكَ وَاللَّهُ أَعْلَمُ». (ابن حجر، ۱۳۷۹هـ، ج۱۳: ۱۹۱) ژباړه: دا احتمال لري چې وویل شي د عمر نه وروسته دا شرط راغلي وي چې خلیفه به قریش وي او یا هم د عمر اجتهاد بدلون کړی دی، الله تعالی ښه پوهیږي.

همدارنګه عمر رضي الله عنه ویلي دي«لَوْ أَدْرَكَنِي أَحَدُ رَجُلَيْنِ، ثُمَّ جَعَلْتُ هَذَا الْأَمْرَ إِلَيْهِ لَوَثِقْتُ بِهِ. سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ». (احمد بن حنبل، بې تا، ج۱: ۲۰)

(*). که له دوو کسانو څخه یو مې ژوندی موندلی وای او دا لوی کار (خلافت) مې هغه ته سپارلی وای، پرې به مې بشپړ باور درلود. هغه دواړه دي: سالم، د ابو حذیفه آزاد شوی غلام، او ابوعبیده بن الجراح.

دوی وایي چې سالم قریش نه و، بیا عمر څنګه څرګندونې کوي چې دی یې وړ دی او ټاکي به یې، نو دا په همدې دلالت کوي چې د قریشیت شرط اعتبار نه لري.

هیثمي د دې حدیث په اړه وایي چې په دې کې علي بن زید دی، حدیث یې حسن دی او په دې کې ضعف دی.

تر ټولو غوره قول د شنقیطی رحمه الله دی، هغه وایي: «فاشتراط کونه قرشیاً هو الحق، ولكن النصوص الشرعية دلت على أن ذلك التقديم الواجب لهم في الإمامة مشروط بإقامتهم الدين وإطاعتهم لله ورسوله . فإن خالفوا أمر الله فغيرهم ممن يطيع الله تعالى وينفذ أوامره أولى منهم». (شنقیطی، ١٤١٥هـ - ١٩٩٥م، ج١: ٢٤) ژباړه: نو د امام (خلیفه) د قریشي‌توب شرط همداسې حق دی، خو شرعي نصوصو څرګنده کړې چې د خلافت لپاره د هغوی مقدم ګڼل یوازې هغه وخت واجب دي چې دوی دین پلی کړي او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي. که دوی د الله له حکم نه سرغړونه وکړي، نو له دوی نه هغه څوک ډېر د خلافت وړ دي چې د الله اطاعت کوي او د هغه امرونه عملي کوي.

ابوبکر الصدیق رضي الله عنه هم وایي: «وإن هذا الأمر في قريش ما أطاعوا الله واستقاموا على أمره». (البیهقي، ١٩٩٤م، ج٨، ص١٤٢) ژباړه: د خلافت دا چارې به تر هغې له قریشو سره وي، چې د الله اطاعت کوي او د هغه د دې په لاره کلک والاړ وي، همدارنګه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «كَانَ هَذَا الْأَمْرُ فِي حِمْيَرٍ فَنَزَعَهُ اللَّهُ مِنْهُمْ وَصَيَّرَهُ فِي قُرَيْشٍ وَسَيَعُودُ إِلَيْهِمْ». (أحمد بن حنبل، ١٩٩٨ م، ج٤، ص٩١) ژباړه: د خلافت دا چاره په حمیر کې وه، نو الله ترې واخیسته، قریشو ته یې ورکړه، او بېرته به هغوی ته ګرځي.

* . خو هیثمي په مجمع الزوائد کې ویلي دي: (رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَفِيهِ عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، وَحَدِيثُهُ حَسَنٌ، وَفِيهِ ضَعْفٌ.٤/ ٢٢٠). احمد روایت کړی چې په کې علي بن زید دی او حدیث یې حسن دی او په دې کې ضعف دی.

**په خلافت کې د قریشیت په اړه د معاصرو علماوو نظر**

عبدالقادر عوده[*] په خپل کتاب(الإسلام وأوضاعنا السیاسیة) کې د قریشیت د شرط په اړه د ابن خلدون نظر راخیستی چې مراد ترې ځواک دی، ورپسې یې د طه حسین نظر راخیستی چې د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه د رسول اللهﷺ له دې قول (الائئمة من قریش) نه هدف د هغه وخت ممتاز صحابه کرام و چې د اسلام په خپرولو کې یې بسیارې هڅې کړې وه.

بیا وایي چې کوم حدیثونه چې په دې مورد کې راغلي دي، د ټولو یو مفهوم او معنی ده چې امامت به په قریشو کې وي، خو په ځینو حدیثونو کې زیادت دی چې په څرګنده ترې معلومیږي چې دا چاره په مطلق ډول د قریشو نه ده، هغه مهال د قریشو ده چې د الله اطاعت کوي او په دین ولاړ وي او هغه حدیث چې وایي ( تر هغې به دا چاره په قریشو کې وي چې په خلکو دوه تنه هم موجود وي) دا حدیث هم د پورتني حدیث په څېر مطلق راغلی دی، خو دواړه په هغو حدیثونو مقید دي چې قریشیت یې د الله په اطاعت او د دین په قیام مقید کړی دی.

بیا وایي چې له دې وروسته باید وویل شي: د قریشیت په اړه ټول حدیثونه د خبر په صیغه راغلي دي، پرته له دوه حدیثونو څخه چې (استقیموا لقریش ما استقام لکم). ژباړه: د قریشو په لار لاړ شئ چې ستاسې لپاره مستقیمه شوې ده، او یا ( قدمو قریشا و لا تقدمواها). ژباړه قریش مخکې کې او تاسې ترې مه مخکې کېږئ. دا دوه حدیثونه د امر په صیغه راغلي دي، کوم چې د خبر په صیغه راغلي هغه احکام نه دي، یوازې د قریشو د حال په اړه خبراوی دی

---

* . عبدالقادر عودة په کال ۱۳۲۱ هـ = ۱۹۰۳ م کې د مصر د دقهلیه ولایت د شربین ولسوالۍ د کفر الحاج شربیني په کلي کې وزېږېد. د یوه مشهوره او د جزیرې العرب له اصیلو کورنیو څخه و. د (اخوان المسلمین) د مصر له لویو مشرانو، مفکرانو او د معاصرې اسلامي خوځښت له مخکښو شخصیتونو څخه و. ده ګڼ شمېر علمي او حقوقي کتابونه لیکلي، چې د هرې قانوني کتابتون لپاره مهم مآخذ ګڼل کېږي، د هغو له جملې دا اثرونه دي: اسلام او زموږ قانوني حالتونه، اسلام او زموږ سیاسي حالتونه.، اسلام د خپلو زامنو د ناپوهۍ او د خپلو عالمانو د ناتوانۍ تر منځ، مال او واکمني په اسلام کې، د اسلامي جزایي قانون تشریع د وضعي قانون سره پرتله شوې. ( المکتبة الشامله).

او دا مفهوم لري چې تر هغې به په دوی کې امامت وي چې د الله اطاعت کوي، که يې د الله نافرماني وکړه نو الله به پرې نور څوک واکمن کړي.

کوم حديثونه چې د امر په صيغه راغلي دي، نو دا څرګندوي چې پر امت لازمه ده چې د قريشو اطاعت تر هغې وکړي چې دوی د الله په اوامرو مستقيم ولاړ وي.

عوده په پای کې وايي چې دا دوه تفسيرونه د دغو حديثونو په اړه غوره تفسير دی ځکه چې ټول حديثونه تقريبا په يوه درجه کې دي، يو بل قوي کوي، داسې څه په کې نشته چې يو بل دې منسوخ کړي.

بايد دې ته هم پاملرنه وکړو چې ټول جمهور چې د قريشيت په شرط ولاړ دي د متغلب خلافت ته اجازه ورکوي که هغه قريشي هم نه وي. او دا په خپله د قريشيت د شرط تناقض دی، خو دوی يې په ضرورت تعليلوي. (عبدالقادر عودة، ۲۰۱۲م، ص ۹۳-۹۵)

د ازهر پوهنتون پخوانی رئيس علامه محمد ابوزهره په خپل کتاب (تاريخ المذاهب الفقهية والاسلامية المعاصره) کې د قريشيت په اړه د راوړو حديثونو وروسته ليکلي، (بې له شکه چې دا حديثونه د قريشو فضيلت ته اشاره کوي او د قريشو لپاره دا فضيلت بس دی چې رسولﷺقريشي و، په سقيفه بنی ساعده کې د خليفه د ټاکلو لپاره لومړني مهاجر او انصار راټول شول او د ابو ابکر الصديق رضي الله عنه له خطبې وروسته يې د مهاجريينو په منځ کې قريشي وټاکه، نو دا يې د دغه حديثونو پر بنا ونه ټاکه، دا يې په دوه اساسه وټاکه، لومړی دا چې پر انصارو يې د مهاجرينو پر فضيلت او په قرآن کريم کې يې د لومړی يادونې او د اسلام په لومړيو کې يې په سختيو د صبر پر اساس و.

دوهم دا چې له اسلام مخکې او د اسلام په لومړيو کې قريشو لوړ مقام لاره، نو ځکه ابوبکر الصديق رضي الله عنهوويل: «ان العرب لا تدين الا لهذا الحی من قريش». ژباړه: عربان يوازې د قريشو دې کندي ته غاړه ږدي. بې له شکه چې دا نص د قريشو افضيلت او غوراوی په ګوته کوي.

ابوزهره رحمه الله زياتوي که فرض کړو د قريشيت په اړه د رسول اللهﷺحديث د امر په معنی وي، نو دا امر د وجوب په معنی نه دی، بلکې د قريشو په افضليت دلالت کوي نه د

خلافت په صحت، بې له شکه له قریشو پرته د نورو امامت هم سم دی او دغه احادیث د خبر په مفهوم کتې مټ د دې حدیث په څېر دي( الخلافة بعدی ثلاثون، ثم تصیر ملکا غضوضا» ژباړه: خلافت به له ما وروسته دېرش کاله وي، بیا به (حکومت) د زور او واکمنۍ په بڼه بدل شي. او یا هم د افضلیت خبره ده نه د صحت. (ابوزهرة، بې تا، ص۷۶-۷۹)

د عقیدې او معاصرو مذهبونو متخصص او د محمد بن سعود الاسلامیة پوهنتون استاذ ناصر بن عبدالکریم وایي: د امام قرشي توب د علماوو تر منځ اختلاف لري. احادیث وایي: «الأئمة من قریش»، خو دا د امامت د کمال شرط دی، نه د صحت شرط. که وړ قرشي کس موجود نه وي، هر وړ کس چې د امامت نور شرطونه پوره کړي، مشروع امام ګڼل کېږي. حدیث «ولو عبدًا حبشیًا» ښیي چې غیر قرشي هم کولی شي امام شي او اطاعت یې واجب دی.

نو له دې امله داسې ښکاري چې دا حدیث د خبر له بابه هم تعبیرېدلی شي او که د امر له بابه ونیول شي، نو دا امر یوازې هغې زمانې ته متوجه دی چې مسلمانان توان ولري او قرشي او وړ کس موجود وي او د هغه تاکنه فتنه نه راولاړوي. (ناصر ابن عبدالکریم، بې تا، ص۴۸-۴۹)

**پایلې**

د موضوع د تفصيلي څېړنې او فقهي، تاريخي او نصي شواهدو د تحليل په نتيجه کې څرګندېږي چې د قريشو نسب النضر بن کنانه يا فهر بن مالک ته رسېږي، او د «الأئمة من قريش» حديث د ثابتو او معتبرو روايتونو په چوکاټ کې داخل دی، داسې چې د صحيحينو شواهد يې صحت تأييدوي. د خلافت او قريشيت بحث د اسلامي سياسي فکر له مهمو او ژورو مسايلو څخه دی، ځکه د نصوصو د ظاهر، د تاريخي واقعيتونو او د اجتهادي تحليل تر منځ د توازن غوښتنه کوي. د جمهورو علماوو په شمول څلورو مشهورو فقهي مذهبونو د ياد حديث پر بنسټ قريشيت د امامت له لازمي شرايطو څخه ګڼلی او د سقيفه بنی ساعده پېښه يې د ستر تاريخي ملاتړ په توګه وړاندې کړې ده.

سره له دې، ځينې مذهبي او کلامي ډلې لکه خوارج، معتزله او اشاعره د نسبي شرط پر خلاف دريځ لري او د امامت لپاره يې د عدالت، علم، کفايت او وړتيا معيارونه مهم بللي دي. د ابن خلدون تحليلي ليدلوری دا څرګندوي چې د قريشيت حکمت د عصبيې ځواک، ټولنيز ملاتړ او د سياسي ثبات د ساتنې له اړتياوو سره تړلی و، نه د نسبي امتياز له اصل سره. د ده له نظره د امامت مشروعيت د رهبر د عدالت، اهليت او د امت د چارو د سمبالولو له وړتيا څخه سرچينه اخلي.

تاريخي شواهد د صحابه‌وو په سيرت کې هم دا ښکاره کوي چې د غير قريشي افرادو مشرتابه په اصل کې د امتناع وړ نه و، خو په دې شرط چې د دين او شريعت معيارونه يې پوره کړي وي؛ او دا حالت د قريشيت د شرط مصلحتي او نسبي ماهيت ته اشاره کوي. معاصرو علماوو لکه شنقيطي، عبدالقادر عوده او ابوزهره رحمهم الله هڅه کړې چې د نصوصو او تاريخي واقعيت تر منځ علمي توازن وساتي او د دوی د تحليل له مخې قريشيت يو حق دی، خو مشروط او د امت د خير، ثبات او مشرتابه د اهليت له معيار سره تړلی دی. د دوی له نظره که د قريشو له منځه د عدالت، تقوا او اهليت خاوند مشران شتون ونلري، نو د امت د مصالحو او د شريعت د مقاصدو له مخې د غير قريشي رهبر امامت هم مشروع ګڼل کېږي.

د جمهورو فقهاوو هغه نظر چې د متغلب امام اطاعت، که څه هم غیر قریشي وي، د امت د وحدت او نظم د ساتنې لپاره روا ګڼي، دا څرګندوي چې د امت مصلحت د نسبي امتیاز په پرتله لوړ مقام لري. د خلیفه حیثیت د امت د چارو په سمبالولو کې د خلکو د نیابت حیثیت دی، نه د الله د ځايناستي؛ ځکه د اسلامي عقیدې مطابق الله تعالی د خپلو مخلوقاتو اداره په مستقیم ډول کوي او د هغوی د چارو لپاره بشري نائب اړتیا نه لري.

په پایله کې څرګندېږي چې د خلافت مشروعیت د عدالت، شورا، تقوا، علم، اهلیت او د امت د رضایت پر بنسټ ولاړ دی، نه پر نسل او قبیله. له دې امله د قریشیت شرط باید یو تاریخي او مصلحتي حکم وبلل شي، نه یو ابدي او تعبدي نص. د شریعت د مقاصدو له نظره خلافت هغه مهال مشروع ګڼل کېږي چې عدالت، اهلیت او د امت خیر تأمین کړي او قریشیت د خلافت د کمال شرط ګڼل کېږي، نه د صحت شرط.

**سرچيني**


القرآن الكريم

- ابن منظور: محمد بن مكرم (۷۱۱هـ)، لسان العرب، دار صادر - بيروت.
- ابن حجر: أحمد بن علي العسقلاني: (۸۵۲هـ)، فتح الباري شرح صحيح البخاري، دار المعرفة - بيروت، ۱۳۷۹هـ.
- ابن أبي يعلى: محمد بن محمد (۵۲٦هـ)، طبقات الحنابلة، تحقيق: محمد حامد الفقي، دار المعرفة - بيروت.
- ابن العربي: محمد بن عبد الله المعافري المالكي (۵۴۳هـ)، أحكام القرآن، راجعه وعلق عليه: محمد عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية - بيروت.
- ابن خلدون: عبد الرحمن بن محمد (۸۰۸هـ)، ديوان المبتدأ والخبر، تحقيق: خليل شحادة، دار الفكر - بيروت، دوهم چاپ، ۱۴۰۸هـ/۱۹۸۸م.
- ابن عابدين: محمد أمين بن عمر (۱۲۵۲هـ)، رد المحتار على الدر المختار، دار الفكر - بيروت، دوهم چاپ، ۱۴۱۲هـ/۱۹۹۲م.
- ابن ماجه: محمد بن يزيد القزويني (۲۷۳هـ)، سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، دار الفكر - بيروت.
- ابن نجيم: زين الدين بن إبراهيم (۹۷۰هـ)، البحر الرائق شرح كنز الدقائق، تحقيق: احمد عزو عناية الدمشقي، دار إحياء التراث العربي، لومړی چاپ، ۱۴۲۲هـ/۲۰۰۲م.
- ابن هشام: عبد الملك بن هشام (۲۱۳هـ)، السيرة النبوية، تحقيق: مصطفى السقا وآخرون، مكتبة مصطفى البابي الحلبي - مصر، دوهم چاپ، ۱۳۷۵هـ/ ۱۹۵۵م.
- ابوزهرة: محمد، تاريخ المذاهب الاسلامية، دارالفكرالعربی، القاهرة.
- أحمد بن حنبل: أحمد بن محمد الشيباني (۲۴۱هـ)، المسند، تحقيق: شعيب الأرنؤوط وآخرون، مؤسسة الرسالة - بيروت، لومړی چاپ، ۱۴۲۱هـ/۲۰۰۱م.
- الباقلاني: أبو بكر محمد بن الطيب (۴۰۳هـ)، الإنصاف، تحقيق: محمد زاهد الكوثري، المكتبة الأزهرية للتراث، دوهم چاپ، ۲۰۰۰م.

- الباقلاني: أبو بكر محمد بن الطيب (٤٠٣هـ)، تمهيد الأوائل في تلخيص الدلائل، تحقيق: عماد الدين أحمد حيدر، مؤسسة الكتب الثقافية - لبنان، لومړی چاپ، ١٤٠٧هـ/١٩٨٧م.
- البيهقي: أحمد بن الحسين (٤٥٨هـ)، السنن الكبرى، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، مكتبة دار الباز - مكة، ١٤١٤هـ/١٩٩٤م.
- الجويني: عبد الملك بن عبد الله (٤٧٨هـ)، الغياثي غياث الأمم في التياث الظلم، تحقيق: عبد العظيم الديب، مكتبة إمام الحرمين، دوهم چاپ، ١٤٠١هـ
- الحاكم: محمد بن عبد الله (٤٠٥هـ)، المستدرك على الصحيحين، تحقيق: مصطفى عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية - بيروت، لومړی چاپ، ١٤١١هـ/١٩٩٠م.
- الخطابي: حمد بن محمد البستي (٣٨٨هـ)، معالم السنن، المطبعة العلمية - حلب، لومړی چاپ، ١٣٥١هـ/١٩٣٢م.
- الذهبي: شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: ٧٤٨هـ)، سير أعلام النبلاء, الناشر: دار الحديث- القاهرة، چاپ: ١٤٢٧هـ-٢٠٠٦م.
- الزبيري: المصعب بن عبد الله (٢٣٦هـ)، نسب قريش، تحقيق: ليفي بروفنسال، دار المعارف - القاهرة.
- الزركلي، خير الدين بن محمود بن محمد بن علي بن فارس،الدمشقي (المتوفى: ١٣٩٦هـ)،الأعلام، الناشر: دار العلم للملايين، پنځلسم چاپ ٢٠٠٢ م.
- السبكي: تقي الدين علي بن عبد الكافي (٧٥٦هـ)، فتاوى السبكي، دار المعارف.
- الشنقيطي: محمد الأمين بن محمد (١٣٩٣هـ)، أضواء البيان في إيضاح القرآن بالقرآن، دار الفكر - بيروت، ١٤١٥هـ/١٩٩٥م.
- الطبري: محمد بن جرير (٣١٠هـ)، جامع البيان عن تأويل القرآن، تحقيق: عبد الله بن عبد المحسن التركي، دار هجر، لومړی چاپ، ١٤٢٢هـ/٢٠٠١م.
- الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر (المتوفى:

٣١٠هـ)، تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، الناشر: دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م.
- عودة، عبدالقادر، الإسلام وأوضاعنا السياسية، موسسة الهنداوي للتعليم، القاهرة، چاپ: ٢٠١٢م.
- العيني: بدر الدين محمود بن أحمد (٨٥٥هـ)، عمدة القاري شرح صحيح البخاري، دار إحياء التراث العربي - بيروت.
- الغزالي: محمد بن محمد الطوسي (٥٠٥هـ)، فضائح الباطنية، تحقيق: عبد الرحمن بدوي، مؤسسة دار الكتب الثقافية - الكويت.
- القرطبي: محمد بن أحمد الأنصاري (٦٧١هـ)، الجامع لأحكام القرآن، تحقيق: هشام سمير البخاري، دار عالم الكتب - الرياض، چاپ، ١٤٢٣هـ/٢٠٠٣م.
- القلقشندي: أحمد بن عبد الله، مآثر الإنافة في معالم الخلافة، تحقيق: عبد الستار أحمد فراج، دار النشر: مطبعة حكومة الكويت، الكويت، دوهم چاپ: ١٩٨٥م.
- محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله، الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول اللهﷺوسننه وأيامه (صحيح البخاري)، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاةلومړی چاپ: ١٤٢٢هـ
- مخلوف: محمد بن محمد بن عمر بن علي ابن سالم (المتوفى: ١٣٦٠هـ), علق عليه: عبد المجيد خيالي, شجرة النور الزكية في طبقات المالكية, الناشر: دار الكتب العلمية، لبنان، لومړی چاپ: ١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م.
- المناوي: عبد الرؤوف بن تاج العارفين (١٠٣١هـ)، فيض القدير شرح الجامع الصغير، المكتبة التجارية الكبرى - مصر، لومړی چاپ، ١٣٥٦هـ.
- النووي: يحيى بن شرف (٦٧٦هـ)، روضة الطالبين وعمدة المفتين، تحقيق: زهير الشاويش، المكتب الإسلامي، دريیم چاپ، ١٤١٢هـ/١٩٩١م.